ليکونکي : برين کالمن (Brian Kalman) .

منبع او دنشر نېټه : ګلوبال ريسرچ«19-09-2016».

ژباړونکي : پوهندوی دوکتور سيد حسام «مل».

------------------------------------------------------------

## دوهم افغانستان : آيا ازبکستان وروسته دجمهور رييس اسلام کريموف د مړنی څخه ژوندي پاتي شي ؟

## Afghanistan 2,0: will Uzbekistan survive the death of president Islam Karimov?

سريزه : د ازبکستا ن تاريخ د کال (۱۹۹۰)په لمړيو کی دشوروی اتحاد ددړی وړی کيدو څخه وروسته د توکميز اختلاف ، داخلی جګړی اوداسلامی جګړه ماړواوديولړ بی ثبا ته حالاتوسره مخا مخ شو اودهمدی وضع په رامينځته کيدوسره هغه څه چی هرچا ته دمنلو وړ اويو روښانه حقيقت په ګوته کوی او هغه د ازبکستا ن د جمهور رييس اسلام کريموف د نه ستړي کيدونکی اومد برانه هلو ځلو پايلی وه چی هغه وشوکړلی چي ازبکستان آرام وسا تي اود قومی ، مدهبی او سمتی اختلافاتو دناوړو پايلو څخه مخنيوی وکړي هغه دسپتمبردمياشتی په دوهمه نيټه کال(۲۰۱۶) کی دزړه دړيدو په نتيجه کی له دی نړی څخه سترګي پټی کړ اوپه حق ورسيد اوس د اسلام کريموف د مړنی څخه وروسته ډيرو ته د اشک او واسواس راپيداشوی چي آيا دهغه ځای نا ستی دا توان او قدرت به ولری چی ازبکستان د موجوده قومی ، مذهبی ، جغراقيوی اوسمتی اختلافاتو او شخړو په لړلو سره خوندی وسا تي او دتولو ناخوالو څخه مخنيوی وکړی.

هغه بل شی چی دلته دهغه يادونه ضرور ګڼل کيږی هغه په مينځنی آسيا کی دفرغانی حاصلخيز اويوستر ستراتيژيکی دره دی چي په هغه کی دوربينمينو زاړه سرک موقيعت لری آيا کيداي شی چي دغه نوموړي دره ديولړ اسلامی افراطی ډلو ټپلو اودقومی شخړو او د اختلافاتو په موجوديت سره بياهم دړی وړی نشي اوبيا په ځانګړی ډول د کال (۱۹۹۱) څخه را هيسی د ازبکستا ن په دننه کی د اسلامی تروريستی ډلو ټپلو اود سازمانونو په رامينځ ته کيدوسره په شمول داسلامی غورځنګ يعنی هغه سازما ن کوم چي دهغه پيروان په ګاونډی هيوادونو لکه پاکستان ، افغانستان ، تاجکستان ، قرغزستان کی په فعاليتونو بخت دی اوهغوی له تيرو لسوکلونو څخه را وروسته په داعش پلو اودطالب پلو ډلو ټپلو سره ويشل شوی دی او په دوامدار بڼی سره غواړی چی په مينځنی آسيا کی حالات نارام اوپه راتلونکي کی دازبکستان وضع په پوره بڼی سره بی ثبا ته کړی .



په راتلونکو څو میا شتو کی به ددی شاهد اوسو اویا ونه اوسو چي ووینو چي آیا دازبکستان سییاسی بروکراتان ، دهغه هیواد وسله والو ځواکونو او داخلی امنیتی فعالینو اودهغه هیوادراتلونکی مشرتابه به ددی وړتیا ولری چی دهغه هیواد قومونه سره په سوله او امنیت کي وساتی او دازبکستان دولت له هر ډول د ړی وړی کیدو څخه وژغوری ؟ سره دهغه چی دازبکستان پوځ دتیر شوروی اتحادد دوری په وسلو اوجنګی مهماتو سره سمبال او مجهز دی اوددی توان اوقدرت لری چی دیو سالم رهبری تر لارښود نه لاندی هیواد له هر ډول ناوړی پایلی څخه وساتي اوپه تیره بیا دهغه هیواد امنیتی خدماتی نهاد (SNB) چی د اسلام کریموف دزمامداری په وخت کي په هر اړخیز بڼی سره د هغه دلا غښتلتیا دپاره دپوځ په پرتله زیات پا نګوني شوی اوددی هیلی وړل کیږی چي دهغه نهاد په مرسته سره هیواد دقومونو اودداخلی جنګ د تکر او پیل څخه و ژغورلی شي سره له هغه بیا هم ددی سازمان اود ازبکستان پوځ به خپل کارنا می دڅو میاشتو په تیرید و سره به وښیی .




دفرغانی وادی دافراطی اسلامګرایانو د فعا لیتونو،سازشونو اود تول مینځنی آسیا لپاره د ستراتیژیکی یومهه ځلورلاری دي – دغه حاصلخیز اوپرنفوس دره دقرغزستان اودتاجکستان دچاپیرېال دوچوالی په مقا یسه کوم چی هغه هیوادونه را احاطه کړی دی دازبکستان پا تي برخي په غرب کی دهغه هیوادنو سره لکه د بوتل د غاړی په شکل سره نښلوی .

دازبکستان لنډ تاریخ : دازبکستان جمهوریت په کال (۱۹۹۱) کی د یو مسقل هیواد په بنه خپل آزادی ترلاسه کړ، **اسلام کریموف** مخکی د شوروی اتحاد د دړی وړی کیدوڅخه دازبکستان دجمهوری سوسیالیستی مشر اورهبر وه هغه له کال (۱۹۸۹) څخه ترکال (۱۹۹۱) پوری خپل ځان دازبکستان دیو آزاد اومستقل هیواد جمهور ریس نومول اوهغه په غرب کی د منتقد ینو له خوا دیو د یکتا تور په صفت تر نیوکی لاندی وه **اسلام کریموف** دامریکی دمتحده ایالات اودناتوسره دخپل هیواد دروابطو اوداړیکو دبهبودی دپاره نه ستړی کیدونکی هلی ځلی ترسره کړ خصوصاُ کله چي افغانستان دامریکی دمتحده ایالاتو تر هجوم لاندی وروسته د سپتمبر (یولسم ) کال «۲۰۰۱» کی پریوت په همدغه وخت کی **اسلام کریموف** اجازه ورکړ چي دناتو هوایی الوتکو خپل آزادانه الوتنی دازبکستان د کا رشی خانه آباد هوایی ډګر څخه کولای شی چي ترسره کړی او اسلام کریموف په دی توګه دامریکی د متحده ایالاتو د لوژیستکی اود تدارکا تی آسانتیاو دپاره لاره اواره کړ ترڅو چي دهغه هیواد پوره با ور تر لاسه کړي.




دازبکستان په کارشی خانه آباد هوایی ډګرکی دناتو اودامریکی دمتحده ایالاتو دهوایی قوتونو ادی (پایګاه)د (K2) په نوم دځلورو کالو دپاره په افغانستان کي دناتو اودامریکی ده وایی قوتونود مستقل عملیاتونو دترسره کیدو څخه دملاترپه خاطر کوم چي بیا همدغه هوایی ځواکونه په کال (۲۰۰۵) کی له دغه ادی حخه ووتل .

اسلام کریموف پخپل دوامدار مبارزی سره وغوښتل چي ازبکستان دیو اسلامی هیواد اوپه عین زمان کی دیو سکولار دولت په بنه وسا تي ، هغه خپل ځان د جمیعت مومن اسلامي ، دداخلی قبیلوی ځواکمن قدرت او دنوی را مینځته شوی اسلامی بنیاد ګرایا نو سازمان (MIU) سره په تضا د کی لیدل ، خصوصاُ داسلامی افراطیانو سره کوم چي هغوی په بیړه سره دودی په حال کی وه ترهغه چي دغه اسلامی بنیا دګرایان په کال

(۲۰۰۵) کی دازبکستان په اند یجان کی په یو سرنوشت سا ز تراژیدی پاڅون با ندی لاس پوری کړ چی نوموړی پاڅون د دولت د پوځ له خوا وځپل شو اوپاڅون کونکو ته ډیرستر ځانی تا وان ورسید ل کوم چي دراپورونو له مخي په دی پاڅون کي (۱۸۷) بغا وت کونکي خپل ژوند دلاسه ورکړل ا ما د مړو حقیقی شمیر (دځنو رسنیو په قول سره ) له زرو «۱۰۰۰» کسا نو څخه هم زیا ت وه ۰کوم چی په دی وخت کی دامریکی متحده ایالات داسلام کریموف ددولت د پوځ اود امنیتی قوتونو ددی کړنی په وړاندی دملګرو ملتونو له لاری څخه خپل کلک غبرګون او نیوکی تر سره کړ هسی یو غبرګون کوم چی اسلام کریموف په ډاګه کړ چی دامریکی د متحد ایالاتو دغه غبرګون دشا له طرفه په خنجر وهل دی نو دهمدی اصل په نظرکی نیولوسره هغه یعنی اسلام کریموف دامریکی د متحده ایالاتو څخه په کلکه وغوښتل چی خپل ټول نظا می قوتونه کوم چی دنا تو ترسرمشری لاندی په ازبکستان کی د قا رشی په خان آباد هوایی ډګر کی میشته دی د شپږ میاشتو په موده کی اوباسی او له نوموړی هوایی میدان څخه چي دهغوی په اختیار کی وه پښی سپکی کړی هماغه وه چی دامریکی دمتحده ایالاتو اودنا تو ټول نظامی قوتونه د نومبرمیاشت کال (۲۰۰۵) کی دقارشی خان آباد له هوایی ډګر څخه ووتل .

وروسته له دغه پورتنی یادونوڅخه اسلام کریموف دی نقطی ته ورسید چی دامریکی د متحده ایالاتو دولت په هیڅ بڼي سره علاقمندی نه لری چی په مینځنی ختیځ اومرکزی آسیا کی د سکولار د دولتونو په وړاندی له اسلامی افراط ګرایا نوڅخه مخ واړوی اویا د هغوی سره مخا لفت وکړی بلکه برعکس د امریکی متحده ایالات د افراطی اسلامګرایانوسره په منطقه کي څه په مستقیم او یا څه په غیر مستقیم بڼی سره مرسته اودهغوی په تحریک کی لکه دسوند دموادو په بڼه پالیسی خپله کړ .

اسلام کریموف دامریکی دمتحده ایالاتو د پا لیسی په نظر کی نیولو سره کوم چی هغه هیواد داسلامی افراطګرایا نو څخه ملاتړ کوی نو ښاغلي کریموف په ازبکستان کي د خپل سیکولار دولت د ټینګښت اود ټیکا وو د پاره روسی ته مخه کړ اوښاغلي پوتین یی دخپل مبارزی ددوام اود غښتلتیا دپا ره یومناسب شریک ومنل – روسیه دیوی لسیز څخه د ققفاز په جمهوریتونو کی د اسلامی افراطګرایانو په مقابل کی وجنګید یعنی دهغه اسلامی افراط ګریانو په وړاندی چي د امریکی د متحده ایالاتو اود خلیج دهیوادونو له خوا ملاتړ کیدل نودهمدی روانو حالاتو په نظرکی نیولوسره د ازبکستان اود روسی ترمینځ اړیکی سره ډیر نژدی شو چی دهمدی نژدیوالی له کبله دواړه هیوادونو سره په کال (۲۰۰۵) کي دوه اړخیز دفاعی تړون لاس لیک کړل او ازبکستا ن په عین زمان کي د ډلیز امنیت په سا زمان کی (CSTO) له (۲۰۰۶) څخه تر (۲۰۱۲) پوری غړیتوب تر لاسه کړ لکه همغسی چي په کال (۲۰۰۱) کی دشا نګهای د ګډ همکاریو په سازمان کی (SCO) غړیتوب ترلاسه کړی وه اودروسی فدار اتیف هم دهمدغی نوموړی

سازمان غړی وه کوم چې لاتراوسه په همدی نوموړی سازمان کی دواړه هیوادونه خپل غړیتوب سا تلی د ي.

اسلامی بنیا دګرایان : د ازبکستان هیواد دخپل آزادی د ترلاسه کولو څخه وروسته د سخت دریځ اسلامی بنسټپا لو ځواکونو سره مخا مخ شو ، که څه هم دغه اسلامی افراطی بنیا دګر سازما نونه اوډلي ټپلی مخکی دازبکستان داستقلال دترلاسه کولو څخه هم په هیواد کی موجود وه اوخپل غیرمشروع فعالیتونه په یو اوبل شکل سره ترسره کول اما ددغه افراطی ډلی او ګروپونو کا رنامی اوفعا لیتونه د شوروی اتحاد دړنګید و څخه دمخه چندان ښکاره نه وه اویا نه په ستر ګو کید ل - لاکن وروسته د (۱۹۹۰) څخه دغه افراطی ګروپونه په ډیرچټکتیا اوپه ډیر بیړی سره دازبکستان دسکولاردولت دراپرځولو اونسکوررولو په نیت سر راوچت کړل ، اوپه مرکزی آسیا کی دترکستان داسلامی خلافت غورځنګ (IMU) رامینځته کړ کوم چي د دغه افراطی ډلی اوداسلامیک جها د د ډلی (IJU) زیا ترغړی ازبکا ن وه کوم چي دغه دواړه اسلامي سا زمانونه اوډلي ټپلی دازبکستان ددولت په وړاندی خپل تخریبی فعالیتونه تر سره کول اوبیا وروسته له برید اوحملی څخه دخپل ځا ن د خوندی سا تلو د پاره ګاوندی هیوادونو کي پناه اخیستل اودازبکستان ددولت دامنیتی قوتونو څخه ځان پټول.

دازبکستان دغه اسلامی غورځنګ دیو نړیوال تروریستی سازمان په بڼه وپیژندل شو یعنی هغه سازمان چي دخپل رامینځته کیدوڅخه تراوسه پوری په مختلفو ځیروپه ښکاره اوپټ تغیراتو سره په یو لړفعالیتونه بخت دی.یعنی دغه اسلامی افراطی سازمانونه دخپل پیل څخه دداخلی جګړو په لمن وهلواوبیا په دی اخرووخنونوکی دیو لړسرکشیو په لړلو سره دپرله پسي تغیراتو سره مخا مخ شوی او دفرصتونوپه لړلو سره خپل تخریبی کړنی تر سره کړی دی او اوس هم د دی احتما ل شته چی دغه سا زما نونه د قدرت دخلا په




موجودیت سره یعنی داسلام کریموف د مړنی څخه د فرصت په لړلو سره په ازبکستان کي حالات خړپړ کړی حال د اچي اسلام کریموف د خپل (۲۷) کلن زما مداری کي دازبکستان داسلامی غورځنګ او دځنو نورو افراطی ډلو ټپلو سره ډیر غوځ جنګید لی

اوهرهغه کس چی داسلام په پلمه اوبها نه غوښتی دی چي دولت تهد يد کړی ، ښاغلی اسلام کریوف هغه ته غا ښ ماتونکی ګذار ورکړی دي يعنی کريموف (۲۷)کا له په پوره توان اوقدرت سره په ازبکستان کی مشری وکړ او په همدی (۲۷) کالو کی دهغه مخا لفين اوبيا په ځا نګړی بنی سره افراطی اسلامی ډ لی تپلی ډيرهڅه اواند وکړ چی اسلام کريموف ترورکړی خصوصاُ په کال (۱۹۹۹) کی ځنی افراطی ډلی اوځنی انتحاری بمب چونکی هڅه وکړچی کريموف له مينځه ويسی لاکن هغو ونتوانيد چی اسلام کريموف له مينځه ويسي بلکه هغه يعنی اسلام کريموف ديوی قوی او قد رتمند مشر په ځير وتوانيدل چی اسلامی افراطی ډلی تر خپل فشا ر لاندی راولی اوهغوی په يوه اسلامی ډول بوتل کی واچوی اودهغوی فعاليتونه شنډ او محدود کړی.



اسلاميک بوتل

بی ويلو دی پا تی نشی چی داسلام کريموف د زمامداری په دوران کی د ازبکستان د اسلامی غورځنګ اکثر پلويان د کريموف له ډاره اجبا ری مهاجرتونو ته اړ شوی اوکا ونډی هيواد نو لکه افغانستان او پاکستان ته پناه راوړی او کله نا کله د مساعد و فرصتونو په لرلو سره د ازبکستا ن په پولو کی غلچکی حملی ترسره کړی دی.
ديادونی بل مهم مطلب داچي په دی وروستيو کلنو کی دازبکستان داسلامی غورځنګ دغړوپه مينځ کی درهبری په اړين ځنی تاوتريخوالی پيدا شو چی دهغه پا يلی دنوموړی سازمان د انشعاب زمينه برابره کړ يعنی نوموړی سازمان په دوه برخو سره وويشل شو چی يوه برخه يی خپل وفاداری داعش ته اوبله ډله يی خپل وفاداری طا لبا نو ته اعلام

وکړ.بی ویلو دی پا تي نشي چی د دی دواړو ډلو ترمینځ دښمنی او ترېګنی له ډیر وخته موجود وه اما دملاعمرد مړنی څخه وروسته ددوی په مینځ کی دښمنی لا پسي شدید شو تر هغه خایه پوری چی دازبکستان داسلامی غورځنګ طالبی بیل شوی اړخ دازبکستان داسلامی غورځنګ د داعش اړخ سره په افغانستان کی په جنګ او جګړی باندی لاس پوری کړل په هرصورت په اوس وخت کی دازبکستان داسلامی غورځنګ زیات غړی اوپلویان په سوریه کی دسوری ددولت په مخا لفت کی د النصر ، القاعده اود داعش په صفوفو کی تنظیم شوی دی چی سربیره پر ازبکانو په دغه یادو سازما نو کی تاجکا ن ، قرغزیان ، ایغوریان اوعربان هم ترسترګو کیږی چي ټول په ګډه سره د سوریي ددولت په مقابل کی جنګیږی .




دازبکستان داسلامی غورځنګ مشر عثمان غازی داګست میاشت کال (۲۰۱۵) کی خپل تعلقات اسلامی دولت سره اعلام کړ یعنی اسلامی دولت (داعش) ته بیعت وکړ کوم چی دا د ازبکستان داسلامی دولت دوهم ځل انشعا ب دی کوم چي پس له هغه دوی دواړه خواوی (انشعاب شوی ګروپونه ) سره په افغانستان کی سره په خونړی جګړی لاس پوری کړل .

دازبکستان د اسلامي جهاد اتحا د (IJU) چي په حقیقت کی دازبکستان داسلامی غورځنګ یوه انشعابی ګروپ ا و یا ډله دي غواړی چي یو پان ملي اسلامي دولت جوړ کړي ددغه جهادی اتحاد دایجاد اود تاسیس بنسټ په کال (۲۰۰۲) کی د پاکستان په شمال ولویدیز یعنی په وزیرستان کی کیښودل شو، دغه ګروپ یا دغه افراطی اسلامی متعصب ډ لی په کال (۲۰۰۷) کی داکثرو کارپوهانو له خوا یوتروریستی ډلی وشمیرل شو چي په اروپا کی دتروریستی نورو ډلو سره یوځای پرملکی خلکو یرغل راوړی او ملکی خلک له مینځه وړی کوم چي دهغوی زیات شمیر اوس په افغانستان او سوریه کی دافغانستان اودسوری ددولتونوپه مقا بل کی جنګیږي بی ویلو دی پاتي نشي چی ددی تروریستی سازمان ترکی اتباع د ترکیه څخه سوری ته د جنګ اود جګړی د پاره لیږل کیږي اوس دلته هیڅ دشک ځای نشته چي دغه متعصب اسلامی افراطی جګړه مار و په

شمول د ازبکستان د اسلامی غورځنګ اود ازبکستان د اسلامی جهاد اتحاد (IJU) په ازبکستان کی د اسلام کریموف له مرګ څخه وروسته دقدرت دخلاد مینځ راتلو دفرصت څخه ګټه پورته نکړی اوپه ازبکستان کی ددولتی قدرت د تر لاسه کولو د پاره ازبکستان د ګواښ او د تهد ید سره مخا مخ نکړي ددغه اسلامی ګروپونو زیات غړی ډیر متعصب اوډیر له حده زیات افراطی اوبنیاد ګرایان دی چي له یوه نیمه لسیزي څخه را په دی خوا په افغانستان او په سوریه کی دافغانستان اود سوریی ددولتونو په مقابل کي جنګیړی اویا تروریستی فعالیتونه تر سره کوی، نړیوال استخباراتی نهادونه اوخپلواک شنونکي تول




په دی باور دی چي د ازبکستان ملی امنیت د دغو افراطی ګروپونو سره په مسا بقه اوپه چلند کی کیدای شی چي ولویږی او د دی امکان هم وړل کیږی چي په راتلونکي کلونوکی به ازبکستان دځنو نورو داخلی اوخارجی تهد یداتو اوګواښونو سره مخامخ شي

وسله والوځواکونو: که څه هم د ازبکستان پوځ د خپل ګاوندی هیواد ونو په پرتله په ښه مدرن اونوی وسلو اوجنګی مهما توسره یوسمبال شوي پوځ دی آیا دغه دازبکستان په ښه وسلو سره سمبال او غښتلی پوځ د کورنی او د با ند نی ګواښونو او تهد ید ا تو په وړاندی د دی وسه لري چي دهیواد امنیت خوندی وساتي ؟ ددی سوال ځواب هم هو دي

اوهم نه ! اوهغه داچي دازبکستان وسله وال ځواکونه کولايي شي چي دسيمی د د ود يز ځواک په مقابل کي چي وغواړی دهيواد امنيت دګواښ سره مخا مخ کړي سا تنه کولاي شی، اودبلی خوا څخه بايد په احتمالی بڼی سره وړانديز شی چي په راتلونکووختونو کی ددی تصور نه وړل کيږی چی ازبکستان دګاونډی هيوادونو دګواښ اود تهد يد سره به مخا مخ شي اما بيا هم دهغه امکان او احتمال څوک نشی ردولاي .

دازبکستان په جمهوريت کي وسله وال قوتونه په شمول ددافع هوا اود هوايی ځواکونو سره ټول په پنځه نظامی ځانګړی منطقو کی ځاي پرځای شوی دي ، نوموړي ځواکونه دروسانو دزوړ دود په توګه دځني احتمالی (داخلی اوخارجی) ګواښونو دکچي سره سم اودتکتيکی دکترين په نظر کي نيولو سره په مهم پنځه سوق الجيشی ياستراتيژيکی منطقو کی سره ميشته شوی دي، او دپوځ يوشمير نور واحدونه يا يونيټونه لکه زغره وال غونډ ، هوايی چټک يرغل وړونکی جزوتام هم دپوځ په څنګ کی دهرډول بيړنی ناسم حالاتودتيکاو د پا ره چمتو شوی قوتونه دی، اوسر بيره له پورتني نظا می واحدونو څخه کم ترکمه دری نور ځانګړي ( پارتيزانی اوضربتی غونډ) دا زبکستا ن دامنيت او د اطلاعاتو داداری(SNB) تر رهبری لاندی دپوځ په تشکيل کی ترسترګو کيږي .

د ازبکستا ن واسله وال ځواکونه په لمړی درجه کی د شوروی اتحاد دنمونی په څير دموتريزی ټوپک لرونکی غونډ لری کوم چي دغه غونډ دپوځ دآزاد توپخانی دجزوتا م اود يوشمير هوايی واحدونو لکه هوايی بريد کونکی کنډک پواسطه سره ملاتړ کيږی کوم چي د هغه په څنګ کی خپلواک زغره وال واحدونه ، سرحدی سا تونکی ځواکونه اوهمدارنګه د ازبکستان دامنيت اوداطلاعاتو داداری ترسرمشريزه لاندی دری ځواکمن نظامی قوتونه هم دهيواددامنيت دټينګښت دپاره سره څنګ په څنګ کی ولاړدی



دازبکستان په قارشي دخان آباد نظامی هوايی ډګر اوپه هغه ډګر کی دازبکستان د سوخو(۲۴) جنګي الوتکي يعنی هغه هوايی ميدان چی دا زبکستان دولت دامريکی اودنا تو هوايی ځواکونو دا فغانستان داشغال څخه وروسته د نا تو دعمليا تو نودسرته رسولو دپا ره دهغوی په اختيار کی اچولی وه .

**دتاشکند نظامی منطقه** : دازبکستان دتاشکند په دغه نظامی منطقه یا چونی کی دپوځ دتوپخانی لوا ، د بی ام ۲۱ (BM 21) دراکټونو یونټ اود اوراګان بی ام «۲۷» [uragan BM27] راکټ انداز یونیټونه تابعه شوی دي له هغه ځایه ځخه چي تا شکند دازبکستان پلازمینه دی نو دهغه دامنیت اودمصونیت دخوندی ساتلو دنده د ازبکستان د چټک ضربتی جزوتام اودازبکستان د ملی امنیت داداری پرغاړه اچول شوی دي بی ویلو دی پا تي نشی چي د تا شکند د مرکزی ستا د(سرمشریزه) تر نظر لاندی یو شمیر (2s7,230 mm) ډول اتوماتیک سلاحګا نی اود توکخا (TOKCHA) یعنی دبالایستیکی مزایلو د تغولو وسیله سره د تشکیلاتی اود نظا می سامان الاتو جدول هم سا تل کیږی.

**مرکزی نظامی ناحیه** : په دغه نظا می ناحیه کی دازبکستان دپوځ یو ډول موتریزی شوی توپک لرونکی غونډ او دیوی توپخا نی غونډ سره ځای پرځای شوی دي اودا ددی دپاره چی د سملا سی با ند نی یرغل مخه ونیسی یعنی دغه نظامی واحدونه دازبکستان دپولی دسا تنی دنده هم پرغاړه لری کوم چي ددی واحدونو یوزیات شمیر د افغانستان پولو ته نژدی میشته شوی دي یعنی د هیواد په ختیځ برخه کی چی یو سترا تیژیک اهمیت لری دآماده با ش په بنه پرخای شوی دي .

**ختیځ نظامی منطقه** : په دي منطقه کي یو موتوریزی توپک لرونکي لوا ، یوهوایی برید کونکي کنډ ک اود توپ خا نی یوه لوا ځای پرځای شوی دي ، بی له کوم شک اوشبهه دغه منطقه دازبکستان دملت د دفاع د پاره ترټولوپا ییښتنه سیمی ( منطقه مخاطره آمیز) ځخه شمیرل کیږی اوداځکه چي د **فرغا ني** دوادي دسترا تیژیکی اهمیت په نظرکی نیولو سره دغه سیمه یامنطقه دداخلی نښتو اوداحتمالی حملو د پاره ډیر مساعد ګڼل کیږي نو دهمدی اصل په نظرکی نیولو سره ددی ساحی امن اوتیکا و د نظامی مسولو یونیټونو اود پولی دسا تونکو ځواکونو اود ملی امنیت خد ما تی ځواکونو ته ورسپارل شوی دي .

**شمال ولوید یزپوځی منطقه** : دی منطقه کی یو موتوریزی توپک لرونکې لوا پروت دی او هم دلته داورال بحیره دهرډول تهاجم په مخه یوه طبعی خنډرامینځته کړی دي په دی ساحه کی یواځی یوه طا یفه میشته دی نوپه هرصورت دغه ساحه دازبکستان یو له ډیرو امن اومصون منطقی ځخه شمیرل کیږي .

**سهیلي ولوید یځ پوځی منطقه** :دلته یوموتوریزی توپک لرونکې لوا ځای پر ځای شوی دی کوم چي نوموړی منطقه په جنوب کی د ترکمنستان سره ګډه پوله لری اوددغه منطقی امنیت دپوځی مرکزی منطقی دځواکونو پواسطه سره ملاتړ کیږی یعنی ددی منطقي په امن کی پوځی مرکزی منسوبین پوره ونډه اخلی اما دغه سا حه د نښتو ډیر مساعد برخه دی اوداځکه چي د مخدره موادو زیا ت قاچا قبران له افغانستا ن ځخه

همدغه منطقې ته را اوړي .

دازبکستان هوايي ځواکونو اوهمدارنګه د هغه هيواد مسلح قوا دروسی د تسليحا تی صنا يعو يا دروسی په لاس جوړ شوی سلاح اوپه جنګی روسی مهما تو سره سمبا ل او تجهيز شوی پوځ دی دازبکستان دهوايی ځواک شتمنی او تجهيزات دروسی دصنا يعو محصول دی يعنی نوموړی تجهيزات او هوايی بريدکونکی جنګی الوتکی د روسی په تسليحا تی کارخا نو کی جوړ شوی دي دازبکستان هوايی ځواکونه زيا ت پر (Su21) او (Mig 29) باندی ډېره کوی اوددی نوموړو جنګی الوتکی پرسا تنه اودهغي پر حفظ مراقبت با ندی پام سا تي اوداځکه چی دغه الوتکي په کامل اطمينان سره دازبکستان دهوايی حريم په سا تنه اودفاع کی بی سا ری نقش لوبوی . همدارنګه د بلی خوا څخه دازبکستان هوايی ځواکونه پر ثا بت وزرلرونکی (SU 25) جنګی الوتکي او ( MI 24) الوتکی باندي خپل ځا نګړی پام سا تی اود ا ځکه چی دغه ثا بت وزرلرونکی جنګی بمب غورځونکی الوتکی د هيواد امنيت د بغا وت کونکو او د شورشيا نو په مقابل کی په پوره اطمينان سره سا تي همدارنګه دازبکستان هوايی ځواکونه يوشمير ترانسپورتی / بريدکونکی چورلکي لکه (Mi 8) او(MI 17) هم په اختيارکی لری چی د دغه چورلکو څخه دازبکستان د چټک غبرګون ځواکونه دعاجلو پېښو په رامينځته کيدو کی پکا ر وړل کيږي ددغه الوتکو ارزش په دی کی دی چی دوی د لوړ تحرک اودچټک خوځښت په درلودو سره هم په دښتو او هم د **فرغا ني** په غرني سيمه کی په پوره توانمندی سره الوتني کولای شی .

دملی امنيت دخد ما تو اداره : داسي انګيرل کيږي چی د ازبکستا ن نظا می قوتونه دمنطقی دواقعی شرايطو (دپرسونل اود تجهيزات دشمير اودځنی نورو وسا يلو په لرلو سره ) په نظر کی نيولو سره ډير ځواکمن او پيا وړي پوځ دی ، جمهور ريس اسلام کريموف د خپل زمامد اری په دوره کي دهيواد دهوايی قواوو دلا غښتيلتيا دپاره زيات پانګونه وکړ اوخپل پوره پام د خپل هيواد دمسلح قواو په روزنه او زده کړه کی اړولی وه اوترخپل هڅه پوری زيار ايستل چی دهيواد امنيت په ډاده زړه تامين کړي نو ددغه تولو شتمنيو په مينځ کی کوم چي دهغه څخه په ميراث پاتی دی يو هم د ملی امنيت دخد ما تو(SNB ,NSS) غښتلي اداره دی چی له کا ل (۲۰۰۵) څخه راهيسي دازبکستان دداخلی په وزارت پوری تړل شوی دی او له هغه وخته چی دغه اداره د ازبکستان د داخلي په وزارت پوری تړلی شوی د هغه په د ند وکی هم يوڅه تغيرات رامينځته شوی دی کوم چي ددی اداری اوسنی د نده کټ مټ لکه دامريکی د متحده ايالاتو د (سی آی ای) اود (FBI) دادارو د د ند و په څير دي اوهغه په دي مفهوم چی دازبکستان دملی امنيت اداره لکه د (FSB) په شان يوشمير ځا نګړی واحدونه (يونيټونه ) ديولړ ځانګړی مقاصد و د پاره پکاروا چول يعنی هغسی يونيټونه چي د ضد شورش

اودتروریزم په وړاندې مبارزه وکړي او هم دمخدره موادو دمخنیوی په خاطر او هم پرداخلی اطلاعاتی او استخبارا تی فعا لیتونو با ندې بشپړ نظارت وکړي نو دهمدې اصل په نظرکی نیولو سره په ازبکستا ن کی د داخلی وزارت په چوکاټ کې درې ځانګړی (دخاصو مقاصدو دپاره ځانګړی یونیټونه ) کندوکونه د « الفا – کافه ها اودلړم په نومونو »رامینځته کړ چې دغه نوی ایجاد شوی ځانګړی یونیټونه دمخدره موادو دقاچاق په مخنیوی کې کوم چې مخد ره توکی په غیر قا نونی بڼی سره له ګاونډی هیوادونو څخه ازبکستان ته راوړل کیږی خپل دندی ترسره کړي همدارنګه دغه نوی کنډ کونه دازبکستان دپولی په اوږدو اودهیواد په دننه کې دنده لري چې داسلامی شبهه نظامیانو پر پټن ځایونو باندی یرغل ویسی اودهغوی پناه ګاه دړی وړی کړی دغه نوی را ایجاد شوی کنډوکونه څه دتجهیزاتو له نظره او څه هم د فن اود مهارتونو له نظره د روسی د ځا نګړي کنډوکونو سره پوره ورته والی لري بی ویلو دی پاتی نشی چې دغه کندوکونه دازبکستان د ملی امنیت داداری دپاره یوه داطمینان وړ وسیله اوابزار دی چې دهغی په وسیله سره دازبکستان د ملی امنیت اداره کولی شی چې د ازبکستان داسلامی جهاد داتحاد (IJU) اودازبکستان داسلامی افراطی غورځنګ (IMU) غړی مخکی له دی چې په یولړ ویجاړونکی عملیا تونو لاس پوری کړی هغوی په نښه کړی او له مینځه یې ویسي.

لکه همغسی چې مونږ مخکی یاده کړ چې دازبکستان مسلح قواو دروسی ددوران په وخت کی په روسی سلاح اوجنګی تجهیزاتو سره سمبا ل شوی اما په دی نژدی وختونو کی دازبکستان دولت په دی لټه کی شو چې خپل مسلح قواو ته ځنی غربی مخکی تللی مدرن سلاح اوجنګي تجهیزات برابرکړی او غواړی چې دغه غربی تجهیزات زیا تر دامریکی دمتحده ایالاتو څخه ترلاسه کړي لکه چې دامریکی متحده ایالات ازبکستان سره وعده کړی وه چې هغه دولت به له (۳۰۰) څخه زیات ځمکنی نقلیه وسایط (ATV ازبکستان ته ورکوی ( کوم چې ددی وسا یطو د معاملی په برخه کی لا تراوسه ددواړو هیوادونو ترمینځ خبری روان دی ) ، د بلی خوا څخه د الما ن ددولت له هڅو سره سره چې غوښتل دپردې ترشا د المان اود ازبکستا ن د حکومتونو ترمینځ دایربس هلیکوپټر دقرارداد موضوع دعامه له انظارو څخه پټ کړی هغه موضوع اوس په ډاګه شوی دی او هغه داچې دالمان حکومت د یو تړون پر بنیا دغواړی چې ازبکستان ته څرخی ثا بت وزر لرونکی ایربس وپلوری داهغه مطلب دی چې سرکال دازبکستان یوه تبلیغی منبع د نوموړی ایربس دوه ډولونه (As332) سوپرپوما هلیکوپټر او(C295 w) ترانسپورتی هلیکوپټر په یو ویډو کی وښودل چې غواړی له المان څخه ترلاسه کړي البته چې دالمان حکومت هم ددی تړون پر اساس باید ازبکستان ته (۱۴) هلیکوپټرونه باید وسپاری اما ددی دواړو هیوادونو ترمینځ ددغه قرارداد سرنوشت او بیه لاتراوسه نامعلوم اونا څرګند

دی اوهغه داچي ایا د الما ن حکومت پرخپل قول او قرار ولاړ دی اویا داچی له خپل وعدی څخه تر شا شوی دی ( اګرچه د المان دولت داندی جان دخونړی تراژیدی څخه چي په کال «۲۰۰۵» پینه شو پرازبکستان باندی دسلاح اودجنګی مهماتوپر صادرات باندی بندیز ولګول اما بیا په کال (۲۰۰۹ ) کی هغه بند یزونه لیری کړ اولکه چي بیا دسره دازبکستان سره دسلاح اودجنګي مهماتو دخرڅولو تړون لاس لیک کړی دی .



ایربس هلیکوپتر

ګرچه دامریکی متحده ایالات اونور غربی هیوادونه دازبکستان دملی امنیت دخد ما تو پراداری اودهغه د منسوبینو د سخت دریځ او کلک تکتیکو نو با ندي په سپکا وی بني سره د نیوکی سره سم پرهغوی با ندي د ملا متی پری اچول اما د بلی خوا څخه همدغه امریکا یی اوغربی نیوکی کونکي حلقی څه په د ننه اوڅه په بهرکي پراسلا می افراطی ډلی تپلی با ندي هم ګوټ څنډ نه کول اود هغو اعما لو اوکړونو ته په توبیخ آمیز او سپک نظر سره کتل اما د لته هغه څه چي د ویلو دی هغه دادی چی د ازبکستان د ملی امنیت دخد ما تو داداری اودهغه د منسوبینو کړنی داسلام کریموف په (۲۷) کلن واکمنی دوره کی له هراړخه ډیر پرځای اوموفقا نه وه او د بلی خوا څخه پخپله کریموف د منطقی درهبرانو اود محور شخصیتونو سره ډیر نژدی د با ور وړ اړیکی درلود اوبیا په ځا نګړي بني سره د(تاشکند پر انجمن ) باندي ډیر باور مند وه اودهغه سره ډیر نژدی اړیکي سا تلي وه - اسلام کریموف دازبکستان دملي امنیت په قوي او توانمند نقش باندی پوره باور درلود اود همدی ملی امنیت دادری په سم چلن او غوره تکتیکونو سره وشو کړلی چی د ازبکستان په کثیر القومی ، سخت دریځ مذهبی اودمختلفو اند یشو لرونکو ازبکا نو باندي (۲۷) کال حکومت وکړی اود ازبکستان هیواد له هر ډول ویجا ړتیا او هرج ومرج څخه خوندي وسا تي اوس داسلام کریموف دمړنی څخه وروسته سیا سی شنونکی او سیا سی کارپوهان اوتحلیلګران په دي اندیشنه او تفکر کی دی چی داسلا کریموف ځای ناستي به څوک وی ؟ ، لکه هغسی چی معلو میږی دغه سیا ست پوهان داسی وړاندیز کوی چی د اسلام کریموف ځای نا ستی ممکن چي دازبکستا ن لمړی وزیر ښاغلي شوکت میرزایف ( Shavket Mirziyove) اویا د ازبکستان د ملی اداری مشر ښاغلي رستم انویا تف (Rustam Inoyotov) اووسي

لکه چي ټولو په دې باور دی اوهغه داچي تل د صحنی ترشا یو قدرت موجود وی نودهمدی قدرت په لرلو سره ددی احتمال وړل کیږی چي رستم انویاتف به پخپل موجوده مقام کی پا تی شی اوپخپله خوښه به اجازه ورکړی چي یوبل کس دازبکستان رهبری پرغاړه واخلی او ښاغلی رستم انویا تف منلی دی چی د هغه مشر سره به هراړخیز مرستی تر سره کړی .

**ثبا ت یاارډور** :دازبکستان راتلونکي کره نه دی معلوم او هغه داچي آیا نوموړی هیواد به همداسی آرام اوسوله ایز پاتي شي اویا داچي دیولړبی ثبا تی اوهرج ومرج سره به مخا مخ شی اما د سیا سی کارپوها نو په با ور سره د ازبکستا ن راتلونکی د هغه د نوی مشرتا به په توانا یی ، ملی احسا س پرته له نژادی ، قومي ، ژبنی اود شبهه نظامی افراطی اسلامی ډلو ټپلو د نفوذ پرکموالي پوری تعلق نیسی چی دزمان په تیریدو سره به په ډاګه شي . یو حقیقت چي دهغه څخه څوک سترګي نشي پټولی هغه دادي چي نن په سوریه کی له (۵۰۰) څخه تر (۶۰۰) پوری اسلامی افراطی شبهه نظامی ازبکان دیو شمیر نور ډاره اچونکی اوسړی وژنکی ډلو لکه دا مام بخا ری د جماعت پلویا نو سره څنګ په څنګ دالقاعدی په صفوفو کی دسوریی ددولت پر ضد جنګیږي چي دا پخپله په راتلونکی کي دازبکستان ددایمی ټیکا و دپاره چندان ښه زیری نه دی البته دغه پرابلم یواځی به د ازبکستان ستونزي نه وی بلکه د مرکزی آسیا ټولو هیوادو ته یو لوی ستونزه او ګواښ بلل کیږی.

یوه بله دیا دونی وړ مطلب دادی چي نن په سوریه کي ګڼ اسلامی افراطی شبهه نظامیان له مرکزی آسیا څخه دلته په سوریه کی سره راغونډ شوی دی یعنی هغه ډلی ټپلی چی د جګړی په اوږدو کی د سړی وژنی ، بمب جوړونی ، اختطاف کولو ، چورولو اوګڼ شمیر نور نا روا اوغیر انسا نی مهارتونو څښتن دی اوس په دي څخه اواند کی دی چي په نړی کی خپل تروریستی شبکی ته پراخوالي ورکړی لذا حقیقت دادی چي په داسي یو بی سرپوښ اوبی قانون محیط کی میشته شوی متعصب افراطی سخت دریځ اسلا می ډلی ټپلی د نړی له ټولوبرخو څخه د لته په سوریه کی سره راټول شوی دي اوداسلام له ډیرکرغیړن ، مبتذ ل اوله فسا ده ډک نسخي څخه په ګټه اخیستو سره نه داچي یواځی سوریه د تباهی کندی ته ور وِغورځول اما ډاره په دی کی دی چي که چیری دغه ورانکا ر جګړه مار ازبکان د شرایطو په مساعد کید و سره او یا داچي **داسلام کریموف** د مرګ څخه وروسته د قد رت د خلا په را مینځته کید و سره بیرته ازبکستان ته واوړی نو په هغه صورت کی به دازبکستان حالات څه ډول وی ؟ اویا په هغه صورت کي دازبکستان دملی امنیت داداری انزار او سناریو به په څه دول اووسی ؟ طبعی دی چی ازبکستان به هم دهرج مرج او نا وړو حالاتو سره مخامخ کیږی!

داسی وړاندی وینه کیږی چي په ازبکستان کي په دی نژدی وختونوکی ددی احتمال

وړل کیږی چی ددی هیواد حکومت دپوره تجربي په لرلو سره بیاهم دهیواد داوضاعو په خرابیدو سره به د مد نی ټولنو داعتراضا تو زغم به هم د لاسه ورکړی او دهر ډول اعتراض په مقابل کی به پریکړنی اقدام ترسره کړي – دازبکستان دملی امنیت دخدماتو اداره په دی نژدی وختونو کي د تروریزم پرضد خپل استخبارا تی او خپل عملی ضد فعالیتونه زیات کړی دي اوبی له کوم شک اوشبهه په ډیر جدی بنی سره ددغه اسلامی افراطی ډلو ټپلو پرفعالیتونو اودهغو په پټن ځایونو باندی څه په بهر اوڅه هم د ازبکستان په دننه کی خپل نظارت اوڅارنه لا پسی زیات کړي چي حتی د ازبکستان خلکو په دی ویره کی غورځیدلی دی چی دازبکستان دولت به د هر ډول خونړي پیښو د مخنیوی دپاره بیا به داندیجان دقتل عام پشان پیښه له سره تکرار نشي او داسی وړاند وینه کیږی چی که چیری جګړه مار ازبکان دسوری له جګړی څخه بیرته ازبکستا ن ته رستون شی نوهغوی هرومرو به د خلکو په مینځ کی بی نظمی ته به لمن ووهی او بیا د حکومت پر ضد له سره په جهاد پیل کړی اوداځکه چی دهغوی په نظر ازبکستان یو ډیر آسان او یونرم نشانګاه اوهدف دي کوم چی هغوی با ید دغه هد ف ته ورسیږي .



دقرغزستان دامنیتی ځواکونو مداخله دقرغزستان اودازبکو دګروپونو ترمینځ د راپیداشوی نښتی دارا مولو دپا ره په اوش(osh) یعنی دقرغزستان اودازبکستان دپولو ترمینځ دفرغانی دختیځ برخي په څنده کي – قومی نښتي په منطقه کي دثبات پرضدد یو لوی ګواښ ګڼل کیږي .

پا یلي : اوس اوس د ازبکستان جمهوریت په یو څلور لاره کی ولاړ دی اوهغه داچی په دواړه حالاتو کي څه داچي د ازبکستان خلک د موجوده سکولار دولت د ثبا ت

اودعامه حکو متداری د قومی ، مذهبی توپیرونو په موجودیت سره سره له هغه ملاتړ کوي ؟ اویاداچي نوموړی ملت دقومی ، ژبني ، ایدیولوژیکي ، اود اوږدو کلنو دفرقه ای اختلافاتو په موجودیت کی ددولت دټوټه ټوټه کیدو په طرفه بی تفاوت پاتي کیږی لهذا دهمدی اصولو په نظرکی نیولو سره داسی راښکاری چی دازبکستان دملی امنیت دخدماتو دادارې مشر ښاغلي رستم اینویاتف به دخپل توان اود قدرت په لرلو سره به هیح اسلامی افراطی بنیاد ګرا ډلو ټپلو اودهغو سره نور ورانکار ډلو ته به اجازه ورنکړي چي په ازبکستان کي بی نظمی را ایجاد کړي اوهغه داچي دازبکستان د ملی امنیت دادارې ګڼ شمیر منسوبین او فعالین په زغرده سره دورانکارو ډلو ټپلو دفعالیتونو دشنډ ولو د پاره سره اوږه په اوږه ځان چمتو کړي دي .

ازبکستان اوس د یوپیغور اودیوطعنی په بڼه د تندروافراطی ډلو ټپلود تهد ید اودګواښ سره مخامخ شوی یعنی دهغو کسانو دګواښ سره چی څوکاله دمخه دازبکستان ددولت له فشارڅخه اجبا ری مهاجرت ته اړشوی وه لکه دازبکستان داسلامی افراطی غورځنګ (IMU) منسوبین اودهغو سره نورڅا نګی اوډلي ټپلی کوم چی هغوی دکلونو په اوږدو کی دهیواد د بی نظمی د مینځ راتلو د پاره لاس وهنی کړی دی اما اوس دغه ډلی ټپلی ځان ته جرا ت ورکوی چی بیرته ازبکستان ته راستون شی اوبیا د لته د قدرت دترلاسه کولو د پاره په هیواد کي د بی نظمی تغر وغوړوی اووطن ناقراره کړي .

دازبکستان دجمهوریت راتلونکي برخه لیک شاید چي ډیرو ډیرو ته معمولی اوبی اهمیته ښکاره شي ، اوهغه داچي دغه هیواد د مرکزی آسیا په وسط کي پروت یو غریب هیواد دي حال داچي ازبکستان هغه یواځنی هیواد دي چی له مختلفو لارو او اړخونو څخه د **دومینو** [ د د ومینو تیوری او یا لوبه یو ډیر مهم او یو حسا س تیوری دي « لکه هغسی چی دمینځنی ختیځ پیښی راښیی همغسي دي » اودغه تیوری داسی توضیح کیږی اوهغه داچي کله یو هیواد د نړی په یوه ګوټ کي کمونیزم تر نفوذ اواغیزي لاندي ولویږي نود هغه هیواد چا پیر یال هیوادونو هم د نوموړی هیواد سره په ورته بڼي تردکمونیزم اغیزي لاندي پریوځي دغه تیوری د سړی جګړی په اوږدو کی د نړی په سرتا سر کي د امریکی د متحده ایالاتو دولت ته د مداخلی دتوجیهه لپاره دیو ضرورت په بڼه رامینځته شو اوهغه داچي امریکی ځانته حق ورکوی چی دهمدی تیوري په رڼا کی دهیوادونو په چارو کی مداخله وکړي ....... ژباړونکي ] د لوبي او د تیوری په نظرکی نیولو سره دلوبی مهم اواساسیی برخه تشکیلوی – په هرصورت اوس داسي وړاند وینه کیږي چي د مرکزي آسیا میشته ګڼ هیوادونه د اسلامی بنیا دګرایا نو د لوی ګواښ اوپه حال دودی تهد ید سره مخامخ دي چي داپخپله نوموړي هیوادونو ته داسی خبرتیا ورکوی چي هغوي باید ددي تهدید په مقابل کي سره یو ګډ دفاعی ستراتیژیکی تړون رامینځته کړي اوداځکه چي دغه داسلامی افراطي دډلو ټپلو ګواښ اوتهد ید په حقیقت کي یو محوری جګړه دي چي شا ید په دي نژدی وختونو کي د هغه نا وړي

اغیزي په منطقه او یا دنړي په نورو برخو کی ترسترګو شي نو که چیری د ازبکستان ملی رهبری دتزلزل سره مخا مخ شي اویا د ازبکستا ن خلک ددی ورانکارو اسلامی افراطي ډلو ټپلو په منګلو کي سقوط وکړي نو په هغه صورت کي ټول مرکزی آسیا د یو نه جبرانونکي نا ورین اوهرج ومرج سره به مخا مخ شي.

په درنا وی ۲۰۱۶-۹-۲۷